د هپاتایت B واکسین

## د هپاتایت B واکسین د ټولو کوچنیو ماشومانو لپاره توصیه کېږي او د ژوند په اوږدو کې خوندیتوب رامنځته کوي.

ستاسو ماشوم باید په لاندې عُمرونو کې د هپاتایت B واکسین ترلاسه کړي:

- زیږون
- 1 - 2 میاشتي
- 6 – 18 میاشتي

## واکسینونه: په مخنیوي کې ستاسو تر ټولو غوره ستنه.

که تاسو د واکسینونو په اړه پوښتنې لرئ، نو د خپل روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکي څخه پوښتنه وکړئ.

**د واکسینونو او ناروغیو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، وګورئ**

- **hhs.iowa.gov/public-health/immunization**
- **www.immunize.org**
- **www.cdc.gov/vaccines**
- **www.aap.org**

IOWA Health and Human Services
Public Health

06/2024

# د هپاتایت Bواکسین

د لا ښه ژوند لپاره د واکسین له لارې معافیت ترلاسه کړئ!



IOWA Health and Human Services
Public Health

## هپاتایټ B څه دی؟

هپاتایټ B (HBV) یوه جدي ناروغي ده چې پر ینې بریدګره اغېزه کوي او کېدای شي د ینې لهمنځه وړلو، د ینې سرطان او ان مړینې لامل وګرځي. سره لهدې، HBV د خوندي او موثر واکسین په تطبیقولو سره د مخنیوي وړ دی.

## خلک څنګه په هپاتایټ B اخته کېږي؟

HBV په هپاتایټ بی انتان باندې د اخته شویو کسانو په وینه یا د بدن په مایعاتو کې شتون لري. HBV د زېږون پر مهال له مور څخه ماشوم ته سرایت کولای شي. همدا راز، HBV د لاندې توکو د شریکولو لهامله هم خپرېدلای شي:

- د غاښونو برسونه
- اُستري یا پاکيګانې
- د سوري کولو یا خال لګولو ستنې
- د ناخوندي جنسي اړیکې لهلارې

ان د ککړې وینې له کوچني مقدار سره د تماس په صورت کې کېدای شي دغه ناروغي سرایت وکړي. HBV د مور شیدو خوړلو، ټوخې، عطسې، روغبړ کولو یا مچولو لهلارې سرایت نهکوي.



## څنګه پوه شم چې HBV لرم او که نه؟

د HBV معاینې لپاره، ټولې امېدوارې مېرمنې باید د هرې امېدوارۍ په لومړۍ درېمیاشتنۍ دوره کې د وینې ټېسټ ترلاسه کړي. د زېږون پر مهال ستاسو ماشوم ته د HBV له سرایت څخه د مخنیوي په موخه دغه پړاو خورا مهم دی. د خپل HBV ټېسټ د پایلو ترلاسه کولو لپاره د روغتیایي پاملرنو خدماتو اړوند وړاندې کوونکي ته مراجعه وکړئ.

## داېمن شئ چې ستاسو ماشوم له زېږون سره سم واکسین شوی دی.

«د زېږون دوز» د هپاتایټ B واکسین لومړنی دوز دی چې له زېږون سره سم ماشوم ته لګول کېږي. دا په نوي زېږېدلې ماشومانو کې د HBV انتاناتو په وړاندې د ساتنې لپاره ترسره کېږي. د هپاتایټ B انتان کېدای شي د ینې مزمن عفونت لامل وګرځي او په پایله کې د ژوند په اوږدو کې د ینې د لهمنځه وړلو او د ینې سرطان وېره رامنځته کړي. د هپاتایټ B واکسین درې دوزونه به ستاسو ماشوم د HBV پر وړاندې پوره خوندي کړي. تر وخت مخکې نوزېږو ماشومانو لپاره د هپاتایټ B واکسین خوندي دی او توصیه کېږي.

## ایا واکسینونه خوندي دي؟

په متحده ایالاتو کې واکسینونه خوندي او اغېزمن دي. واکسینونه جزئي جانبي عوارض لري، لکه د واکسین لګولو په ځای کې درد او یا خفیفه تبه. دغه جزئي نښې نښانې طبیعي دي او داسې باید وانګېرل شي چې بدن معافیت رامنځ ته کوي. د اندېښنې وړ غبرګونه ډېر نادر دي. د یوه واکسین ترلاسه کوونکی شخص باید د هغه له ګټو او خطرونو څخه باخبره وي. که هر ډول پوښتنې یا اندېښنې لرئ، خپل د روغتیایي پاملرنې خدماتو وړاندې کوونکي سره وغږېږئ.



## هغه تې خور ماشومان چې د HBV مثبتو میندو څخه زېږېدلې وي د انفیکشن مخنیوي لپاره اضافي پاملرنې ته اړتیا لري.

دا ماشومان په لاندې عمرونو کې د هیپاتیټ بی امیون ګلوبولین (HBIG) او اضافي ازموینې ته اړتیا لري:

**زېږون:**
له زېږون وروسته تر 12 ساعتونو پورې د هپاتایټ B واکسین د زېږون دوز او د HBIG یو دوز

**1 - 2 میاشتې:**
د HBV واکسین دویم دوز

**6 میاشتې:**
د HBV واکسین دریم دوز

**9 - 12 میاشتې:**
د روغتیایي پاملرنې خدماتو وړاندې کوونکي د وینې ټېستونه اخلي ترڅو د HBV پر وړاندې د خوندیتوب ترلاسه کېدنه تایید کړي